# د ملګرو ملتو امنیت شورا ته
# په افغانستان کې د عمومي منشي د ځانګړې استازې آغلې دیبورا لاینز وینا

## نیویارک، د ۲۰۲۱کال د سپتمبر ۹ نیټه

[هماغه ډول چې وړاندې شوه]

* * *

ښاغلی رئیس، د امنیت شورا غړو، او درنو ویناوالو.

د اګست په ۱۵ د کابل سقوط سره ، د ښار نفوس او د افغانستان خلک د نوي او ډیرې خلکو لپاره د اندیښنې وړ واقعیت سره مخ شول. طالبان پلازمېنې ته ننوتل او د بریا اعلان یې وکړ، د افغانستان جمهوریت ته یې ماتې ورکړه چې له تیرو ۲۰ کلونو راهیسې حاکم و. خو، د دې پیښې په تعقیب، د کابل په هوایي ډګر کې د ویرې او ګډوډۍ صحنې رامنځ ته شوه ځکه چې په لسګونو زره خلکو د هرې لارې په واسطه له افغانستان څخه د تیښتې هڅه وکړه. دا صحنې ، چې په ټوله نړۍ کې ولیدل شوې، اوس په ټول هیواد کې د لاریون په صحنو بدل شوي دي. یادې پیښې څرګندوي چې طالبانو واک ترلاسه کړی، خو تر اوسه د ټول افغان ولس باور نه دی ترلاسه شوی.

نوی حقیقت دا دی چې د ملیونونو افغانانو ژوند به پدې پورې اړه ولري چې طالبان به څنګه حکومت کول غوره کوي. مګر موږ باید له ځانه هم وپوښتو: موږ څه کولی شو او څه باید وکړو؟ هغه ځوابونه چې زه یې ستاسو لپاره لرم آرام بخشه ندي. یاد ځوابونه د ریښتیني معماوې راڅرګندوي او د امنیت شورا ، د غړو هیوادونو څخه چې شورا پکې شامله ده، له ګاونډیو هیوادونو او نړیوالې ټولنې څخه په پراخه کچه متحده رهبرۍ ته اړتیا لري.

موږ د یوې بالفعل ادارې سره مخامخ یو چې دوه ورځې مخکې د طالبانو لخوا اعلان شوه.

هغه څوک چې د یو ټول شموله حکومت د جوړیدو هیله یې درلوده ، او غوښتنه یې کوله، به مایوسه شي. په لست شویو نومونو کې هیڅ ښځه نشته. په یاد لست کې هیڅ غیر طالب غړي شتون نلري، نه د تیر حکومت کوم شخصیتونه ، او نه هم لږکیو ډلو مشران. پرځای یې ، دا ډیری هغه اشخاص په یاد لست په سترګو لیدل کیږي چې له ۱۹۹۶ څخه تر ۲۰۰۱ پورې د طالبانو د مشرتابه برخه وو.

هغه څه چې د دې میز شاوخوا خلکو لپاره سمدستي او عملي اهمیت لري هغه دا دې چې د معرفي شویو ۳۳ نومونو په منځ کې، د لومړی وزیر، د لومړي وزیر دوه مرستیالان او د بهرنیو چارو وزیر په ګډون، ډیری یې هغه کسان دې چې د ملګرو ملتونو د بندیزونو لیست کې دي. تاسو ټول به اړتیا ولرې چې پریکړه وکړې چې د بندیزونو لست او په راتلونکې ښکیلتیا د اغیز په اړه کوم ګامونه پورته شي.

لومړی، موږ باید دمخه موجود بشري ناورین، تر ډیره حده په کلیوالي سیمو کې، باندې تمرکز وکړو، کوم چې په حقیقت کې همدا شیبه لا نور د خرابیدو په حالت کې دي. دې بحران ته د رسیدګۍ په موخه د بندیزونو لرې کولو په اړه سیاسي پریکړو ته انتظار نشي کولی. ملیونونه عام افغانان مرستې ته سخته اړتیا لري. دا پدې مانا ده چې اړین بشري مرستې باید د ملګرو ملتونو یا نادولتي مؤسسو له لارې چمتو شي. سربیره پردې، داسې هیوادونه شتون لري چې خپل بندیزونه لري چې په ځینې غړو یا ډلو باندې پلي کوې، کوم چې اوس د اوسنې حکومت او واک برخه دي. اړونده میکانیزمونه باید ژر تر ژره وموندل شي ترڅو د ملګرو ملتونو سازمانونو او نادولتي مؤسسو ته اجازه ورکړي چې اړین بشري مرستې چمتو کړي. په ورته وخت کې، موږ د سپتمبر په ۱۳ په جنیوا کې د لوړې کچې کنفرانس ته سترګې په لار یو، کوم چې عمومي منشي به راوبولي او کوم چې د بشري اړتیاو پوره کولو په برخه کې د ژمنو غوښتنه کوي، کوم چې اوس د افغانانو ژوند وړباندې متکي ده.

په اوسني چاپیریال کې د ملګرو ملتونو نقش باید روښانه وي او زموږ پر بشردوستانه مسوولیت باندې ولاړ وي. په لویه کچه د روغتیا ، خواړو خوندیتوب، غیر خوراکي توکو، او حفظ الصحې په برخو کې اساسي بشري مرستې رسولو ته سمدستي او عاجل اړتیا شتون لري.

دوهم، زه باید یو اضافي او را روان بحران ته هم  ستاسو پام راواړوم. د نړیوالې ټولنې د غړو لخوا د میلیاردونو شتمنیو او بسپنه ورکوونکو پیسې کنګل شوي دي. د پوهیدو وړ هدف دا دی چې د طالبانو اوسنۍ ادارې ته دا مرستې ورنکړل شي. خو، نه منل کیدونکې اغیز به یو سخت اقتصادي بحران وي چې کولی شي ډیری ملیونونه خلک د فقر او لوږې کندې ته واچوي، ممکن له افغانستان څخه د مهاجرو لوی څپې رامنځته کړي، او په حقیقت کې افغانستان به  نسلونو شاته واچوي. همدارنګه، لکه څنګه چې د افغانستان اسعار ټیټ شوي، د سون توکو او خوراکي توکو قیمت لوړې شوې. خصوصي بانکونه نور د توزیع لپاره نغدې پیسې نلري، پدې معنی چې حتی افغانان چې شتمنۍ لري دوی ورته لاسرسی نشي کولی. معاشونه نشي ورکول کیدی. افغانستان، چې په وارداتو ډیر تکیه لري، نشي کولی د خوراکي توکو او درملو، په بیله بیا د سونګ، برېښنا او نور اړین توکو واردات له مالې پلوه تمویل کړي

د حل یوه لاره باید  ژر تر ژره وموندل شي، کومه چې افغانستان ته د پیسو د جریان کیدو زمینه برابره کړې ترڅو د اقتصاد او ټولنیز نظم د بشپړ تخریب مخه ونیسي. محافظتونه باید رامنځته شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دا پیسې په هغو ځایونو کې مصرف شي، چې شدیده اړتیا لیدل کیږي، او د اوسنۍ دولتي چارواکو لخوا ناوړه ګټه ورڅخه پورته نشي. اقتصاد ته باید اجازه ورکړل شي چې د څو نورو میاشتو لپاره تنفس وکړي، طالبانو ته دا فرصت ورکوي چې انعطاف وښيي او ریښتینی اراده ولري چې دا ځل په ځانګړي توګه د بشري حقونو ، جندر او د ترهګرۍ ضد له اړخه، متفاوت کارونه وکړي.

آغلې رئیس،

لکه څنګه چې ما یادونه وکړه، موږ د تش په نامه سرپرستۍ کابینې په کې ټولشموله نه شتون باندې مایوسه یو، مګر په افغانستان کې نوی واقعیت لاهم د رامنځ ته کیدو په حالت کې ده. په څو اونیو کې چې طالبانو واک تر لاسه کړی یو ګډ انځور رامنځته شوی. تر ډیره حده او د څو استثنا ګانو سر بیره، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ودانیو/دفترونو ته درناوی شوی. خو، موږ د خپل داخلي کارمندانو پروړاندې د ګواښونو او ډارونې ډیریدونکي پیښو له امله په زیاتیدونکي ډول اندیښمن یو. موږ به د خپلو کارمندانو ملاتړ لپاره هرڅه ترسره کولو ته دوام ورکړو او د زیان څخه به یې لرې وساتو. ملګري ملتونه نشي کولی خپل کار ترسره کړي - هغه کار چې د افغانانو لپاره خورا اړین دی - که چیرې کارمندان یې د ویرې او ډارونې سره مخ وي  او په آزاده توګه تګ راتګ و نه شي کولې.

موږ دا اندیښنه هم لرو چې د ډیری بیاناتو سربیره چې د افغان امنیتي او دفاعي ځواک کارمندانو او هغو کسانو ته چې د ملکي کارمندانو په توګه کار کوي عمومي بخښنه ورکړل شوی، د افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواک کارمندانو د غچ اخیستو وژنو ، او د پخوانیو ادارو د کارمندانو توقیف معتبر تورونه شتون لري. موږ د طالبانو د غړو په اړه راپورونه ترلاسه کړي چې کور په کور تلاشي کوي او شتمنۍ یې غصب کوي، په ځانګړي توګه په کابل کې.

او پداسې حال کې چې طالبانو ډیر ډاډ ورکړی چې دوی به د اسلام په چوکاټ کې د ښځو حقونو ته درناوی وکړي، خو موږ ډیری راپورونه ترلاسه کوو چیرې چې طالبانو په عامه ځایونو کې د محرم څخه پرته د ښځو تګ را تګ منع کړې او ښځې یې له کار کولو منع کړې دي. دوی په ځینو سیمو کې زده کړو ته د نجونو لاسرسی محدود کړی او په ټول افغانستان کې یې د ښځو چارو ریاستونه له منځه وړي، او همدارنګه د ښځو غیر دولتي موسسې په نښه کوي.

موږ د افغانانو په وړاندې د تاوتریخوالي په ډیریدو سره چې د طالبانو د واکمنۍ په وړاندې لاریون کوي خورا ډیر اندیښمن یو. پدې تاوتریخوالي کې د خلکو پر سر هوایي ډزې کول، دوامداره وهل، د رسنیو ډارول، او نور ظالمانه اقدامات شامل دي. پرځای یې، طالبان باید د دې ډیری افغانانو مشروع شکایتونو درک کړي، کوم چې د خپلې راتلونکې څخه ویره لري.

د دې اندیښنو سره سره شاید موږ لاهم د دې نوي واقعیت ډیر مثبت لوري ته اړولو کې مرسته کولی شو. د تیر کال په اوږدو کې او د وروستیو اونیو په اوږدو کې د طالبانو مشرانو سره زموږ په لومړنیو خبرو اترو کې، موږ یو روښانه پیغام ترلاسه کړ چې دوی نړیوالې مرستې ته اړتیا لري او غواړي. په حقیقت کې، د طالبانو ځینو غړو د زغم او حتی مشورې غوښتنه کړې ځکه چې دوی له نظامي یاغیتوب څخه حکومتدارۍ ته د لیږد هڅه وکړي. دوی شکایت کړی چې د پخواني حکومتي چارواکو پراخه فساد د هیواد ډیری برخې له مرستې پرته پریښې او د نړیوالې ټولنې سخاوت یې ضایع کړی. مګر دوی پخپله د نړیوالې ټولنې احتمالي سخاوت له لاسه ورکولو خطر سره مخ کوي که دوی د خپلو خلکو څرګند ګټو او حقونو پر خلاف حکومت وکړي.

ښاغلی رئیس او د شورا غړو،

د دې وروستيو پرمختګونو اغيز د افغانستان له پولو هاخوا هم احساس کيږي. د افغانستان شاوخوا ډېری هیوادونه اندېښمن دي چې څنګه د طالبانو واکمني به د دوی امنيت اغيزمن کړي. دوی د پراخ شوي اسلامي دولت له اغيز څخه ويره لري چې طالبان يې نشي کابو کولی. دوی ويره لري چې د مهاجرو څپې به د دوی سرحدونو ته راشي. دوی ويره لري چې په افغانستان کې د پاتې شويو وسلو لوی مقدار به له پايلو سره مخ شي. دوی ويره لري چې طالبان به ونشي کړای چې غير قانوني اقتصاد او له افغنستان څخه بهر ته د مخدره توکو جريان ودروي. دا واقعيا اوس خورا مهم دي چې سيمه خپل موجود ميکانيزمونه وکاروي ترڅو نه يوازې په يوه غبر خبرې وکړي بلکه د ټولې سيمې ګټې لپاره په منسجم ډول عمل وکړي. موږ په دوشنبه کې د شانګهای همکاری سازمان راتلونکې غونډې ته سترګې په لار يو. په نورو ميکانيزمونو کې د مسکو لخوا رامنځته شوي ټويکا فارمټ شامله ده، کوم چې وروستی ځل يې د اګست په پيل کې په قطر کې سره وليدل، يا اختصاصی ميکانيزمونه لکه د سيمې د بهرنيو چارو وزيرانو ناسته چې د پاکستان لخوا کوربه توب شوې چې پدې اونۍ کې ترسره شوې. مګر دا هم مهم دي چې پراخه نړيواله ټولنه په نه بدليدونکې ډول سره و نه وويشل شي. اوس د افغانستان په شاوخوا کې د سيمه ييزې او نړيوالې همکارۍ لپاره يوه بيړنۍ اجنډا شتون لري. د دې پرته، منفي اغيزې به نږدې او لرې احساس شي او وروسته به يې حل کول خورا ګران وي.

د دې اجنډا يوه مهمه برخه د ترهګرۍ ضد مبارزه ده. د القاعدې غړي په افغانستان کې پاتې دي، چې د طالبانو د رسمي چارواکو له خوا ورته په ښکاره هرکلي شوې او ورته پناه ورکول شوې. د داعش خراسان څانګه اوس هم فعاله ده او کولی شي ځواک ترلاسه کړي. د نړيوال ترورېزم د دې اړينو مسلو په اړه اندېښنې به په ساده ډول د طالبانو د ژمنو له امله حل نشي. پدې مسله کې سيمه او پراخه نړيواله ټولنه څرګند ګډ او مهمې ګټې شريکوي.

ښاغلی رئیس او د شورا غړو،

البته، د ملګرو ملتونو کورنۍ په افغانستان کې پاتې ده، د هغه څه ترسره کولو ته ژمن يو چې موږ په تيرو پنځه ويشتو کلونو کې ترسره کړي، د افغانستان خلکو ته يې وړاندې کوو. هغه څه چې د دې هڅې لپاره اړين دي، او په عمومي توګه د افغانستان لپاره ، په کابل کې يو فعال هوايي ډګر دی. له همدې امله موږ د قطر او ترکيې لخوا د ګړندي او سخاوتمندانه اقداماتو څخه مننه کوو چې د طالبانو سره په همکارۍ د هوايي ډګر بيارغونه يې پيل کړي، ترڅو ياد ډګر په بشپړ ډول فعال وي او منظمې سوداګريزې الوتنې بيرته پيل شي. د دې هڅو له برکته، د ملګرو ملتونو بشردوستانه هوايي خدمت لا دمخه په داسې حالت کې قرار لري چې کابل ته منظم الوتنې پيل کړي، او د يوناما خپله هوايي څانګه به هم ژر د دې وړتيا ولري چې الوتنې پيل کړې. زه غواړم د قزاقستان له حکومت څخه هم مننه وکړم چې د ملګرو ملتونو د سيار دفتر په کوربه توب باندې يې په ډيره لنډه موده کې موافقه وکړه ترڅو په افغانستان کې زموږ د هڅو ملاتړ وکړي.

د افغانستان خلکو ته د خدماتو وړاندې کولو لپاره زموږ ژمنتيا پدې معنی ده چې موږ بايد له طالبانو سره په عملياتي او امنيتي مسلو کې ښکېل شو. د دې اونۍ په پيل کې کابل ته د بيړنيو مرستو د همغږي کوونکې مارټين ګريفيتس وروستي سفر د راتلونکې بشري مرستو د شرايطو په اړه بحث ته دوام ورکولو او همدارنګه د سپتمبر په ۱۳مه د جنيوا کنفرانس لپاره د زمينې چمتو کولو لپاره د تيارۍ نيولو بحث شامل و . هر څومره چې د ملګرو ملتونو د هغو کارمندانو ستاينه وکړم، بيا به هم کم وې، کوم چې اوس په افغانستان کې پاتې دي او د ورځني ناڅرګندتيا سره مخ دي. د دوی شتون او د دوی استقامت د افغانستان خلکو ته د خدمتونو رسولو لپاره زموږ د رواني ژمني ثبوت دی.

زه هم غواړم د يوناما د ماموريت په اړه وروستۍ تبصره وکړم، کوم چې تمه کيږي د يوې اونۍ  په شاوخوا کې نوي شي. تاسو د امنيت شورا د غړو په توګه ، زموږ په څير لاهم د نوي وضعيت ارزونه کوئ. زه په دې مهم وخت کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د رول په اړه زموږ روانو بحثونو ته سترګې په لار يم او کله چې موږ مخ په وړاندې روان يو.

ښاغلی رئیس،

تر ټولو ښه او ممکنه پايله به يې دا وي چې طالبان وښيي چې دوی د داسې افغانستان د جوړولو په لټه کې دي چې خلک په ويره کې ژوند ونه کړي، چيرته چې استعداد لرونکي کسان د خپل هيواد په بيارغونه کې د ګډون لپاره رابلل کيږي، او چيرې چې هلکان او انجونې، ځوانې ښځې او نارينه کولی شي هغه ډول زده کړې ترلاسه کړي چې د اوسني پرمختګ دوام ته زمينه برابره کړي. اوس هغه وخت دی چې طالبان د افغانستان خلکو ته په ښکاره ډول وښيي - د افغانستان ټولو خلکو ته - چې دوی ټولو افغانانو ته ژمن دي، د هغوی خونديتوب، ازادي، روغتيا ، تعليم ، او راتلونکي سوکالي تامينوي.

افغان ولس په دې ناڅاپي بحران کې هيڅ لاس نلري او لاهم د ياد بحران لخوا خورا اغيزمن شوی. دا روښانه ده چې هغوی به لاهم دې شورا او نړيوالې ټولنې ته اړتيا ولري.

ښاغلی رئيس او د شورا غړو، پدې خورا مهم وخت کې د افغانستان په اړه ستاسو د پاملرنې او توجه څخه مننه کوم.

* * *